# مطبوعاتی خبرتیا

د هلمند ولایت د ګرشك په ولسوالي کي د یوه اته کلن ماشوم وژل او د فراه ولایت د پشت رود ولسوالي کي د یوه ښوونکي سر پریکول د دولت د مخالفینو له خوا څخه د بشریت په وړاندي جنایت او د نړیوالو بشر دوستانه قوانینو څخه ښکاره سر غړونه ده .
کابل – د ۱۳۹۰ کال د زمری ۴ ( ۲۶ /۰۷ / ۲۰۱۱ )

د ۱۳۹۰ کال د چنګاښ په ۳۱ د جمعي ورځ ( چي د۲۲ / ۰۷ / ۲۰۱۱ کیږي ) د هلمند ولایت د ګرشك ولسوالي کي یو (۸ ) اته کلن ماشوم د دولت د مخالفو ځواکونو ( طا لبانو) له خوا و وژل شو، او د۱۳۹۰ کال د زمری پر ۳ نیته دوشنبه (۲۵ / ۰۷ / ۲۰۱۱ ) د فراه ولایت د پشت رود په ولسوالي کي یو ښوونکی وژل شوی دی .
د افغانستان د بشر حقونو خپلواك کمیسیون د قربا نیانو کورنیو ته خپله خوا خوږي څر ګندوي او د پاك خدای (ج ) له در بار څخه هغوی ته لوی صبر غواړي .
د افغانستان د بشر حقونو خپلواك کمیسیون د ملکي کسانو وژل د اسلام مقدس د ین موازینو او د نړیوالو بشر دوستانه قوانینو پر خلاف بولي او هغه په کلکه باندي غندي . دغه کړني په هیڅ توګه د توجیه وړ نه دي ، د افغانستان د بشر حقونو خپلواك کمیسیون د دولت د مخالفو ځواکونو څخه په ټینګه غواړي چي ملکي کسا ن د جګړو موخه ونګر ځوي .
له هغه ځایه چي د ۱۳۹۰ کال د چنګا ښ ۳۱ او د ۱۳۹۰ کال د زمری ۳ نیټي پیښي د ملکي کسانو په نښه کول وه نو دا د ملی او نړیوالو بشر دوستانه قواننیو (د ژینو کنوانسیون ) تر پښو لاندي کول وه.
د افغانستان د بشر حقونو خپلواك کمیسیون په دې اړه ډیر اندیښمن دی او د افغانستان د اسلا می جمهوري دولت څخه غواړی چي د پورته جنایتونو کوونکی ژر ونیسی او قانوني چلند ور سره وشي .

د افغانستا ن د بشر حقونو خپلواك کمیسیون
افغانستا ن کابل،درییمه کارته ،پل سرخ
تیلفون :۰۲۰۲۵۰۰۶۷۶
فکس :۰۲۰۲۵۰۰۶۷۷
ایمیل :aihrc@aihrc.org.af
سایټ :www.aihrc.org..af